د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۱۳ مه ګڼه • پنجشنبه • د مرغومي ۱۲مه • ۱۳۹۸




۸

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو معین رسماً د وزارت کارکوونکو ته ورو پیژندل شو



۷

په دایکنډي کې د ۵.۳ میلیونه ډالرو په ارزښت
د اوبو رسولو ٤ شبکې بشپړې شوې



٤

په کونړ ولایت کې د بولډر ډوله استنادي
دیوال د پروژې کار به ژر بشپړ شي

# په تیره یوه اونۍ کې د هیواد په ٦ ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۱۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري د ننګرهار په سره رود او کوز کونړ، د بلخ په مارمل، د پکتیکا په ارګون، د هرات په زنده جان، د فاریاب په قرمقول او د کندهار په پنجوایي ولسوالیو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار تیره اونۍ پیل شو. دا ښوونځي به ۱۰، ۸ یا ٦ ټولګي، تشنابونه او د څښاک اوبو څاګانې ولري.

ددې ښوونځیو په جوړېدو سره به د ۷۵۰ کورنیو نجونو او هلکانو ته د زده کړې ور چاپیریال رامنځ ته شي.









# په فاریاب کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو د یوې شبکې کارروان دی

۷/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د فاریاب ولایت د اندخوي ولسوالۍ اړوند د ابو هریره تواچي کلي د پراختیایي شورا له خوا روان دی. د څښاک د پاکو اوبو دغه شبکه چې ۱۳۵۰ متره اوږدوالي، د ۲۳ مکعبه متره اوبو یوه زیرمه، ۸ نلکې او ۲ څاه ګانې لري د جوړولو کارېې تر ۸۵ سلنه پر مخ تللي دي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې له بشپړېدو وروسته به ۳۰۰ کورنۍ د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی ومومي.






# په ننګرهار کې له ۴۳ اړو کورنیو سره د څه باندې ۶۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکیو مرسته وشوه

۷/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د بر میرزا خیل پراختیایي شورا له خوا له ۴۳ اړو کورنیو سره د څه باندې د ۶۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکیو مرسته وشوه. دغه مرسته د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوه چې یوازې اوړه پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دښتمنو خلکوله خوا د بیوزلو د لاسنیوي فرهنګ خپروي.



# په کونړ ولایت کې د بولډر ډوله استنادي دیوال د پروژې کار به ژر بشپړ شي

۷ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په کونړ ولایت کې د بولډر ډوله استنادي دیوال د پروژې کار ۳۵ سلنه مخ ته تللي چې له ټاکلي مهال ویش سره سم به بشپړ شي. دغه پروژه چې د کونړ سیند د مهارولو په موخه تطبیقیږي تر دې دمه یې د ۲۸ برخو د تطبیق تړونونه له اړوندو کلیوالي پرمختیایي شوراګانو سره لاسلیک شوي او د تطبیق چارې یې د پروپوزل مطابق دوام لري.

په ټوله کې د دغې پروژې د تطبیق د بهیر پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ۳۵۰ زره کاري ورځې رامنځته کیږي چې له بشپړیدو وروسته به د سیمې ۲۵۰ زره کسه ترې ګټه واخلي.

په هیواد کې د بهیدونکو اوبو مدیریت او ترې سالمه ګټه اخیستنه هغه لومړیتوب دي چې حکومت یې په اړه خان ژمن ګڼي. له همدې امله د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د کونړ د سیند په دواړو اړخونو کې د بولډر ډوله استنادي دیوال د جوړیدو لپاره ملا تړلې څو په دې توګه نه یواځې د دغه سیند د طغیاني کیدو له امله د سیند په شا او خوا کې پرتو کرنیزو ځمکو او کورونو ته د زیان د ور رسیدو مخه ونیول شي بلکې له دغو اوبو څخه به د چاپیریال د خوندي کیدو او د خایي اوسیدونکو د اقتصاد د پیاوړي کیدو په لار کې هم کار واخیستل شي.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په بریالي ډول د دغې پروژې د تطبیق په لار کې خان ژمن ګڼي له همدې امله د دغه وزارت تخنیکي ټیم د کار په سیمه کې موجود دي څو له تخنیکي اړخه پروژه وخت پر وخت وڅاري. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت همدا راز پر خایي ولس غږ کوي څو په دې توګه د دغې پروژې د تطبیق په لار کې د خپل فردي نظارت له لارې په بریالي ډول د نوموړې پروژې د تطبیق په برخه کې له دغه وزارت سره پوره مرسته وکړي.



# په کندهار کې د څه باندې ۱.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې د ۱.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د محمد نور پراختیایي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۱٤۰۰ متره دي چې ۸ بندونه او ۱۵ د اوبو د ویش دروازې لري. د دغې پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ۹۷۰ کاري ورځې رامنځته شوې دي او د کلي ۱۳۵ کورنۍ ترینه ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۱۱۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي.





# په زابل کې د څه باندې ۱ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د سولري څاه د جوړولو کار بشپړ شو

۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د څه باندې ۱ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوې سولري څاه د جوړولو کار د زابل ولایت د مرکز قلات پورې اړونده سیمه عزت الله کلي کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د دغې پروژې د تطبیق پر مهال چې د افغان دولت له لوري تمویل شوې ۱۷٦ کاري ورځې رامنځته شوي چې ۹۰ جریبه ځمکه یې د اوبو لګولو تر پوښښ لاندې راوستې او د سیمې ۷۷۰ کسه ترې ګټه پورته کوي.



# د مالیې وزارت د ګمرکاتو او عوایدو نوی ټاکل شوی معین د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له کارکوونکو سره خدای په امانی وکړه

۱۳۹۸/مرغومی/۷

د خدای په امانی په دې مراسمو کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي له عیسي قدرت مننه وکړه، چې په اوږدې کاري تجربې، چې د پرمختیا په سکتور کې یې لري د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو د معینیت چارې ښې مدیریت کړې او د نوې مسوولیت په برخه کې یې ورته د بریا غوښتنه وکړه.

محمد عیسي قدرت په خپلو خبرو کې د هېواد جمهور رئیس او د کلیو بیارغونې اوپراختیا وزیر له باور او ښې همکارۍ مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې په ټول توان به هڅه کوي، چې د دولت عواید په ښه بڼه کنټرول او مدیریت کړي، چې په راتلونکو څو کالونو کې د هېواد پر ځان بسیا کېدو هدف ته ورسیږي.

باید یاده شي، چې محمد عیسي قدرت د ۱۳۹۷ کال د وږي میاشتې په لسمه نېټه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو معین وټاکل شو او د ۱۳۹۸ کال، د مرغومي په څلورمه نېټه دمالیې سرپرست وزیر دوکتور همایون قیومي او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي لخوا د مالیې وزارت کارکوونکو ته د مالیې وزارت د ګمرکاتو او عوایدو د معین په توګه ور وپېژندل شو.





# جریان کار ساخت یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش ۱.٦ میلیون افغانی در بلخ

۸ جدی ۱۳۹۸

کار ساخت یک شبکه‌ی آب آشامیدنی صحی به ارزش ۱.٦ میلیون افغانی از طرف برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای سرنهر عبدالله مربوط ولسوالی بلخ ولایت بلخ ٦٥ درصد پیش رفته است. طول این شبکه ٦٤٩ متر بوده و دارای ۵ شیردهن، یک حلقه چاه آب آشامیدنی صحی و یک ذخیره‌ی ارتفاعی با ظرفیت ۲۳ متر مکعب آب، می‌باشد.

گفتنی است که با تکمیل این پروژه حدود ۱۰۸ خانواده به آب آشامیدنی صحی دسترسی می یابند.

# په دایکنډي کې د ۵.۳ میلیونه ډالرو په ارزښت د اوبو رسولو ٤ شبکې بشپړې شوې

۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له لوري د دایکنډي ولایت د شهرستان ولسوالۍ په چک شهر او الگ لرگر کلیو کې د ۵.۳ میلیونه ډالرو په ارزښت د اوبو رسولو ٤ شبکې بشپړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په دې سره ۲۷۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ، نیغ په نیغه او په نا مستقیم ډول ۱۸۹۰ کورنۍ له دې پروژو گټه پورته کوي. یاده دې وي چې ددې پروژو په ترخ کې ۳٦۰۸ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه.





# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو معین رسماً د وزارت کارکوونکو ته ورو پیژندل شو

۱۳۹۸/مرغومي/۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو معین استاد شهزار څدراڼ نن رسماً د وزارت کارکوونکو ته د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي لخوا و روپیژندل شو.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي یې د معرفۍ په مراسمو کې وویل:» استاد شهزار څدراڼ د هېواد په اکاډمیکو او پرمختیایي ادارو کې د کار کولو اوږده مخینه لري او زه ډاډه یم، چې د خپلې مسلکي وړتیا او تجربې په مټ به په خپلو ورسپارل شویو مسوولیتونو کې بریالی وي.»



استاد شهزارڅدراڼ وویل:" د هېواد جمهور رئیس او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي له باور مننه کوم او ژمن یم، چې د وزارت خپلې اړونده چارې به د همکارانو په همکارۍ، سپېڅلتیا او صداقت ترسره کړم، هڅه به وکړم، چې ددې سکتوري وزارت کړنو د هېوادوالو په ژوند کې لا ډېر مثبت تغییر راولي.»





# په پنجشیر کې د ۲.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو د برېښنا یوه پروژه بشپړه شوه

۱۰/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د پنجشیر ولایت د ابشار ولسوالۍ په قلعه محمد حشم کلي کې د ۲.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۸ کیلو واټو په ظرفیت د اوبو د برېښنا یوه پروژه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د دې پروژې په ترڅ کې ۹۳۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او تر بشپړتیا وروسته یې ۷۰ کورنۍ له انرژۍ برخمنې شوې.

# تکمیل کار ساخت یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش نزدیک به ۳ میلیون افغانی در کنر

۹ جدی ۱۳۹۸

کار ساخت یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش نزدیک به سه میلیون افغانی از سوی برنامه‌ی ملی آبرسانی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای خانی بابای ولسوالی سرکانوی ولایت کنر تکمیل و به بهره برداری سپرده شد. این شبکه ۱۸۰۰ متر طول داشته و دارای ذخیره‌ای به ظرفیت ۲۰ متر مکعب و ۲۰ شیر می باشد.

در جریان کار شبکه‌ی مذکور ۱۲۰ روز کاری ایجاد شده و پس از تکمیل شدن آن ۷۰ خانواده به آب آشامیدنی صحی دسترسی یافته اند.





# د زابل ولایت په شینکۍ ولسوالۍ کې د اوبو لګولو د کاریز جوړولو چارې روانې دي

۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په زابل ولایت کې د اوبو لګولو د کاریز د پروژې کار چې نږدې ۳ میلیونه افغانۍ لګښت لري ٥ سلنه مخ ته تللي دي.

د دغې پروژې په لړ کې چې د افغانستان دولت له لوري یې لګښت ورکول کیږي، د یاد ولایت د شینکۍ ولسوالي په شینکي کلي کې د اوبو لګولو د کاریز څاه ګانې او د اوبو لګولو کانال په پاخه ډول جوړیږي.

د یادې پروژې د تطبیق د بهیر پر مهال ۱۲۱۹ کاري ورځې رامنځته کیږي چې له بشپړېدو وروسته به د سیمې ۱٥٤۰ کسه ترې ګټه پورته کړي او ٦۰ جریبه کرنیزه ځمکه به د اوبو کولو تر منظم پوښښ لاندې راشي.

# په سرپل کې د څه باندې ۱.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال کار بشپړ شو

۱۰/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال او د هغه د محافظوي دیوال د جوړولو کار د سرپل ولایت د مرکز اړوند د کورک ازبکیه کلي د پراختیایي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دغه کانال ۱۰ حقابې لري او د محافظوي دیوال اوږدوالی یې ۱۷ متره او لوړوالی یې ۳ متره دي چې ۲۷۷ کورنۍ ترینه ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره د کلیوالو ۲٥۰ جریبه ځمکه خړوبیږي او د اوبو د زیاتوالي په موسم کې د سیلابونو له ګواښ څخه ژغورل کیږي.



# په کندهار کې خه باندې د ۱.۶ ملیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار روان دی

۱۱/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د خه باندې ۱.۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د کلاچې کلي د پراختیایي شورا له خوا روان دی. د دغه کانال مجموعي اوږدوالي ۱۳۰۰ متره دي چې ۸ بندونه او ۱۵ د اوبو د ویش دروازې لري. د دغې پروژې د جوړولو په بهیر کې به ماهرو او غیرو ماهرو کارګرو ته ۱۱۲۰ کاري ورځې رامنځته شي او د کلي ۲۵۳ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۷۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي.





# په لغمان کې د ۶۰۰ متره استنادي دیوال د رغولو چارې روانې دي

۱۰/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له خوا د لغمان د قرغیو ولسوالۍ په سرخکانو سیمه کې د ۶۰۰ متره استنادي دیوال د رغولو چارې روانې دي. دا پروژه د لغمان ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ، د نړیوال خوراکي سازمان په مالي لګښت د شپږو میاشتو په موده کې تر سره کیږي چې په بشپړتیا سره به یې سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه د سیند له اوبو او نیزونو څخه خوندي شي.



# په زابل کې د څه باندې ۱ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د سولري څاه د جوړولو کار بشپړ شو

۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د څه باندې یو میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوې سولري څاه د جوړولو کار د زابل ولایت د مرکز قلات پورې اړونده سیمه شوراب کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دغې پروژې د تطبیق پر مهال چې د افغانستان دولت له لوري لوري تمویل شوې ۱۷۸ کاري ورځې رامنځته شوي چې ۱۰۰ جریبه ځمکه یې د اوبو لګولو تر پوښښ لاندې راوستې او د سیمې ۸۸۹ کسه ترې ګټه پورته کوي.

# په نیمروز ولایت کې د څه باندې ۴۰۰ زره افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د ۳ بمبو لرونکو څاه ګانو د جوړولو کار بشپړ شویدی

۱۳۹۸/ مرغومي/ ۱۱

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې د ۴۰۰ زره افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د ۳ بمبو لرونکو څاه ګانو د جوړولو کار د نیمروز ولایت په چهار برجک ولسوالی کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي. د څښاک د پاکو اوبو د دغو څاه ګانو په بشپړېدو سره د ځایي کلیوالو د ٦٦ کورنیو ۸۵۰ تنه وګړو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسي پیدا کړ.
د یادونې وړ ده چې د پاکو اوبو د دغو ۳ څاه ګانو د جوړېدو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کارګروته ۲۸۰ کاري ورځې رامنځته شوې وې.

